# دافغانستان اسلامي جمهوریت

# دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

## فوق العاده ګڼه

**بی سر پناه ښورنکو ته د او سیدنې د ځمکی**
**د نمرو د ویش مقرره**
**او**
**د ملکي خدمتونو د مامورینو د سلوک د ډول مقرره**

دچاپ نېټه : د ۱۳۸۵ هـ.ش کال د تلی د میاشتې (۵) ـ پرله پسې ګڼه (۹۰۰)

د امتیاز خاوند :دعــــدلیې وزارت

مسؤول چلوونکی :عبدالرشید "قیومي"

مرســــــتیال : نــــــــورعلم

مــهــتــمــم : مــحــمــد جـــان

Download from: aghalibrary.com

# رسمي جريده

د افغانـــــستان د اســـــلامي جمهوريت د وزيرانو د شوري مصوبه

ګڼه : (۱۸)

نېټه :۱۳۸۵/٦/۱۳

بې سرپناه ښوونکو ته د استوګنې د ځمکې د نمرو د وېش مقرره چې په (٦) فصلونو او (۲۲) مادو کې د هغې له ضميمو سره د وزيرانو د شوري لخـــوا تـــصويب شــوې ، منظوره ده .

دغه مقرره د تصويب له نېټې څخه نافذه او په رسمي جريده کـــې دې خپره شي .

حامد کرزی

د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس

مصوبه

شورای وزيـــران جمهـــوری اســــلامی افغانـــــستان

شماره : (۱۸)

تاريخ : ۱۳۸۵/٦/۱۳

مقررهٔ توزيع نمرات زمين رهايشی برای معلمين بی سرپناه که بداخل (٦) فصل و (۲۲) ماده با ضمايم آن از طـــرف شــــورای وزيــــران جمهوری اسلامی افغانـــستان بـــه تصويب رسيده ، منظور است .

اين مقـــرره از تـــاريخ تـــصويب نافذ و در جريـــدهٔ رســـمی نـــشر گردد .

حامد کرزی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

Download from: aghalibrary.com

رسمي جريده

# فهرست مندرجات

## مقررهٔ توزیع نمرات زمین رهایشی برای معلمین بی سرپناه

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادهٔ اول : | منظور | ۱ |
| مادهٔ دوم : | هدف | ۱ |
| مادهٔ سوم : | اصطلاحات | ۲ |


### فصل دوم

### معیار های تثبیت استحقاق


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادهٔ چهارم : | مستحقین | ۳ |
| مادهٔ پنجم : | اولویت استحقاق | ۴ |
| مادهٔ ششم : | استحقاق زوج و زوجه | ۶ |
| مادهٔ هفتم : | عدم دریافت نمرهٔ زمین از سایر ادارات | ۶ |


### فصل سوم

### کمیسیون های اجرائیوی


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادهٔ هشتم : | ترکیب کمیسیون ها | ۷ |


Download from: aghalibrary.com

## فصل چهارم

## وظایف کمیسیون های اجرائیوی

مادهٔ نهم : تثبیت زمین.................................۱۰
مادهٔ دهم : وظیفهٔ کمیسیون های ولایتی.......................۱۱
مادهٔ یازدهم : وظیفهٔ کمیسیون های مرکزی.......................۱۱
مادهٔ دوازدهم : نظارت از احداث شهرک ها.......................۱۲
مادهٔ سیزدهم : مصارف پروژهٔ شهرک سازی.......................۱۲

## فصل پنجم

## وجایب مستحقین

مادهٔ چهاردهم : وجایب مستحقین.................................۱۳
مادهٔ پانزدهم : حالت استرداد نمره زمین.......................۱۵

## فصل ششم

## احکام متفرقه

مادهٔ شانزدهم : مکلفیت های وزارت ها.........................۱۵
مادهٔ هفدهم : سند ملکیت.................................۱۶
مادهٔ هجدهم : مکلفیت وزارت عودت مهاجرین.................۱۷
مادهٔ نزدهم : پرداخت قرضه.................................۱۷
مادهٔ بیستم : توزیع نمرات زمین به سایر کارکنان وزارت معارف.۱۸
مادهٔ بیست ویکم : وضع لوایح.................................۱۸
مادهٔ بیست ودوم : انفاذ.................................۱۸

بسم الله الرحمن الرحیم

## بې سرپناه ښوونکوته د اوسېدنې د ځمکې دنمرو دوېش مقرره

## مقررهٔ توزیع نمرات زمین رهایشی برای معلمین بی سرپناه

### لومړی فصل
### عمومي حکمونه

منظور

**لومړۍ ماده :**

دغه مقرره د پوهنې وزارت بې سرپناه ښوونکو ته د اوسېدنې د ځمکې د نمرو په وېشلو پورې د اړوندو چارو د تنظیم په منظور ، وضع شوېده .

موخه

**دوه یمه ماده :**

د دې مقررې موخې عبارت دي له :

### فصل اول
### احکام عمومی

منظور

**مادهٔ اول :**

این مقرره به منظور تنظیم امور مربوط به توزیع نمرات زمین رهایشی برای معلمین بی سرپناه وزارت معارف وضع گردیده است .

هدف

**مادهٔ دوم :**

اهداف این مقرره عبارت اند از :

Download from: aghalibrary.com

۱- د ښوونکو د بې سرپناهۍ د ستونزې لرې کول .

۲- په تثبیت شوو پروژو کې د بې سرپناه ښوونکو ځای پر ځای کول(اسکان).

۳- د ښوونکو د فکري سلامت تأمینول .

۴- په ټول هېواد کې د با کیفیته او انډولیزې پوهنې دودې لپاره د مسلکي ښوونکو جذبول.

اصطلاحګانې

دریمه ماده :

لاندې اصطلاحګانې پدې مقرره کې لاندنۍ معنا وې افاده کوي :

۱- د ځکمې نمره : د هغې ځمکې محدوده ده چې د سرپناه د ودانولو لپاره په استوګنیزو (مسکوني) پروژو کې مستحق ته وېشل کېږي .

۲- وېش : د استحقاق له تثبیت او د کمېسیون له تصمیم وروسته ، مستحق ته د ځمکې د نمرې په واک کې ورکول دي .

۱- رفع مشکل بی سرپناهی معلمین .

۲- اسکان معلمین بی سرپناه در پروژه های تثبیت شده.

۳- تأمین سلامت فکری معلمین .

۴- جذب معلمین مسلکی جهت رشد معارف با کیفیت و متوازن در سراسر کشور .

اصطلاحات

مادۀ سوم :

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می نماید :

۱- نمرۀ زمین : محدوده زمینی است که در پروژه های مسکونی جهت اعمار سرپناه به مستحق توزیع میگردد .

۲- توزیع : به اختیار قرار دادن نمره زمین به مستحق بعد از تثبیت استحقاق و تصمیم کمیسیون مؤظف میباشد .

## دوه یم فصل

## د استحقاق دتثبیتېدو معیارونه

مستحقین

**څلورمه ماده :**

لاندې اشخاص په هغهٔ صورت کې د یوې نمره ځمکې د ترلاسه کولو مستحق پېژندل کېږي چې بې کوره وي ، د مخه یې په خپل ، د مېرمنې یا خاوند او صغیر اولاد په نوم ځمکه یا استوګنیز آپارتمان نه وي ترلاسه کړی:

۱- د پوهنې په وزارت پورې د اړوندو ښوونځیو ، مدرسو او د ښوونکو د روزنې د عالي مؤسسو برحال ښوونکي او استادان چې لږ تر لږهٔ دوه کاله یې په بالفعل توګه خدمت کړی وي .

۲- هغه قراردادي ښوونکي او استادان چې د پوهنې د وزارت په اړوندو ښوونځیوو او مدرسو کې یې

## فصل دوم

## معیار های تثبیت استحقاق

مستحقین

**مادهٔ چهارم :**

اشخاص آتی درصورتی مستحق دریافت یک نمره زمین شناخته میشوند که بی سرپناه بوده ، قبلاً بنام خود ، همسریا اولاد صغیر نمره زمین یا اپارتمان رهایشی دریافت نه نموده باشند:

۱- معلمین و استادان بر حال مکاتب ، مدارس و مؤسسات عالی تربیه معلم مربوط وزارت معارف که حد اقل مدت دوسال طور بالفعل خدمت نموده باشند .

۲- معلمین و استادان قرار دادی ایکه بیش از مدت سه سال طور بالفعل در مکاتب و مدارس مربوط

له دريو كلونو څخه زياته موده تدريس كړى وي او تر لسو كلونو پورې يې د دوام ژمن شي .

۳- د پوهنې د وزارت او اړوندو ښوونځيو اداري كاركوونكي چې په بالفعل توگه په ښوونځيو كې په تدريس بوخت دي .

۴-د شهيدو ښوونكو ورثه،د خدمت د مودې له په پام كې نيولو پرته. ورثه پدې منظور عبارت ده له : زوج ، زوجې او صغير اولاد څخه .

د استحقاق لومړيتوب

پنځمه ماده :

(۱) كه چېرې د مستحقينو شمېر په يوه پروژه كې د ويش وړ ځمكې د نمرو له شمېر څخه زيات وي ، په لاندې توگه د لومړيتوب د حق لرونكي پېژندل كېږي :

۱- د هغو ښوونكو او استادانو ورثه چې د دندې د اجراء په وخت كې يا د هغې له امله د ۱۳۸۲ هـ. ش كال له پيل څخه وروسته شهيد يا معلول

وزارت معارف تدريس نموده و به ادامه آن الى مدت ده سال متعهد گردند.

۳ - كاركنان ادارى وزارت معارف ومكاتب مربوط كه طور بالفعل به تدريس درمكاتب مشغول مى باشند .

۴- ورثه معلمين شهيد، بدون نظرداشت مدت خدمت . ورثه بدين منظور عبارت اند از : زوج ، زوجه و اولاد صغير .

اولويت استحقاق

مادۀ پنجم :

(۱) هرگاه تعداد مستحقين از تعداد نمرات زمين قابل توزيع دريک پروژه بيشتر باشد ، به ترتيب ذيل داراى حق اولويت شناخته ميشوند :

۱- ورثۀ معلمين و استادانى كه حين اجراى وظيفه يا بالاثر آن از آغاز سال ۱۳۸۲ هـ . ش به بعد به شهادت رسيده يا معلول گرديده

شوي وي .

۲- هغه ښځینه ښوونکې او استادانې چې کونډې وي .

۳- هغه ښځینه ښوونکې او استادانې چې د ولسوالیو په ښوونځیو کې مقررې او په بالفعل توګه تدریس کوي .

۴- هغه ښوونکي او استادان چې له شلو کلونو زیات یې په بالفعل توګه خدمت کړی وي.

۵- هغه ښوونکي او استادان چې له لسو کلونو څخه زیات یې په بالفعل توګه خدمت کړی وي .

۶- هغه ښوونکي او استادان چې له دوو کلونو څخه زیات یې په بالفعل توګه خدمت کړی وي .

(۲) د استحقاق د تثبیت په وخت کې، د دې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوو شرایطو بر سیره د مستحق د تحصیل درجه هم په پام کې نیول کیږي .

باشند .

۲- معلمین و استادان اناث که بیوه باشند .

۳- معلمین و استادان اناث که در مکاتب ولسوالی ها مقرر و طور بالفعل تدریس می نمایند .

۴- معلمین واستادانی که بیش از بیست سال طور بالفعل خدمت نموده باشند .

۵- معلمین و استادانی که بیش از ده سال طور بالفعل خدمت نموده باشند .

۶- معلمین و استادانی که بیش از دو سال طور بالفعل خدمت نموده باشند .

(۲) حین تثبیت استحقاق علاوه بر شرایط مندرج فقره (۱) این ماده درجه تحصیل مستحق نیز در نظر گرفته میشود.

## د زوج او زوجې استحقاق

**شپږمه ماده :**

**که چېرې زوج او زوجه د دې مقررې تر شرايطو لاندې په يوهٔ وخت مستحق وپېژندل شي، يوازې يوهٔ ته يې ځمکه وېشل کېږي .**

## له نورو ادارو څخه د ځمکې د نمرې نه ترلاسه کول

**اوومه ماده :**

**که چېرې په څلورمه ماده کې درج شوي اشخاص ، د دې مقررې د حکمونو مطابق د ځمکې د نمرې مستحق وپېژندل شي ، نشي کولای له نورو دولتي ادارو څخه د ځمکې نمره يا استوګنيز آپارتمان ترلاسه کړي.**

## درېيم فصل

## اجرائيوی کمېسيونونه

## د کمېسيونونو ترکيب

**اتمه ماده :**

**(١) د ځمکو د نمرو او د هغو د**

## استحقاق زوج وزوجه

**مادهٔ ششم :**

**هرگاه زوج و زوجه تحت شرايط مندرج اين مقرره همزمان مستحق شناخته شوند ، صرف برای يکی از آنها زمين توزيع ميگردد.**

## عدم دريافت نمره زمين از ساير ادارات

**ماده هفتم :**

**هرگاه اشخاص مندرج مادهٔ چهارم مطابق احکام اين مقرره مستحق نمره زمين شناخته شوند ، نمی توانند از ساير ادارات دولتی نمره زمين يا آپارتمان های رهايشی دريافت نمايند .**

## فصل سوم

## کميسيونهای اجرائيوی

## ترکيب کميسيون ها

**مادهٔ هشتم :**

**(١) به منظور تثبيت نمرات زمين و**

مستحقینو د تثبیت ، د عادلانه وېش او د ښاري خدمتونو له برابرولو څخه د څارنې په منظور ، په لاندې ترکیب سره په مرکز او ولایتونو کې اجرائیوي کمېسیونونه جوړېږي :

۱- مرکزي کمېسیون جوړ دی له :

- د پوهنې وزیر د رئیس په توګه .
- د ښاري پرمختیا د وزارت معین د مرستیال په توګه .
- د کرنې او اوبولګولو د وزارت معین د غړي په توګه .
- د کورنیو چارو د وزارت اداري معین دغړي په توګه .
- د مالیې وزارت معین د غړي په توګه .
- د کلیو د بیارغونې او پرمختیا د وزارت معین د غړي په توګه .
- د مهاجرینو د راستنولو د وزارت معین د غړي په توګه .
- د کابل والي د غړي په توګه .
- د کابل ښاروالۍ مرستیال د غړي

مستحقین آن ، توزیع عادلانه و نظارت از فراهم آوری خدمات شهری ، کمیسیون های اجرائیوی در مرکز و ولایات به ترکیب ذیل ایجاد میشوند :

۱- کمیسیون مرکزی متشکل است از :

- وزیر معارف بحیث رئیس.
- معین وزارت انکشاف شهری بحیث معاون .
- معین وزارت زراعت و آبیاری بحیث عضو .
- معین اداری وزارت امور داخله بحیث عضو .
- معین وزارت مالیه بحیث عضو .
- معین وزارت احیا و انکشاف دهات بحیث عضو .
- معین وزارت عودت مهاجرین بحیث عضو .
- والی کابل بحیث عضو.
- معاون شاروالی کابل بحیث

په توګه .

– د کار او ټولنيزو چارو ، شهيدانو او معلولينو د وزارت واکمن استازی د غړي په توګه .

– د افغانستان د بشر د حقوقـــو د خپلواک کمېسيون واکمن استازی د کتونکي په توګه .

– د ولايتـــي شـــوري اســـتازی د کتونکي په توګه .

مرکزي کمېسيون ، د کابل ولايت د ځمکو د نمرو او مستحقينو د تثبيت چارې هم تنظيموي.

۲– ولايتي کمېسيونونه جـــوړ دي له :

– والي د رئيس په توګه .

– د پوهنې رئيس د مرستيال په توګه.

– ښاروال د غړي په توګه .

– مستوفي د غړي په توګه .

– د کرنې او اوبو لګولو رئـــيس د غړي په توګه .

– د کليو د بيارغونې او پر مختيـــا رئيس د غړي په توګه .

عضو .

– نمایندۀ باصلاحیت وزارت کارو امور اجتماعی ، شهداء و معلـــولین بحیث عضو .

– نمایندۀ باصـــلاحیت کمیـــسیون مستقل حقوق بشر افغانستان بحیث ناظر .

– نمایندۀ شورای ولایتـــی بحیـــث ناظر .

کمیسیون مرکزی ، امـــور تثبیـــت نمرات زمین ومـــستحقین ولایـــت کابل را نیز تنظیم مینماید .

۲– کمیسیون های ولایتی متشکل است از :

– والی بحیث رئیس .

– رئیس معارف بحیث معاون .

– شاروال بحیث عضو .

– مستوفی بحیث عضو .

– رئیس زراعت و آبیاری بحیـــث عضو .

– رئیس احیاء و انکشاف دهـــات بحیث عضو .

- د مهاجرینو د راستنولو رئیس د غړي په توګه .
- د ښاري پر مختیا د وزارت د زون آمر د غړي په توګه .
- د کار او ټولنیزو چارو ، شهیدانو او معلولینو د وزارت استازی د غړي په توګه.
- د بشر د حقوقو د خپلواک کمېسیون استازی دکتونکي په توګه.
- د ولایتي شوري استازی د کتونکي په توګه .

۳- د ولسوالیو کمېسیونونه جوړ دي له :

- ولسوال د رئیس په توګه.
- د پوهنې مدیر د غړي په توګه.
- ښاروال (د موجودیت په صورت کې) د غړي په توګه .
- د کرنې او اوبولګولو مدیر د غړي په توګه .
- د مالیې مدیر د غړي په توګه .

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو کمېسیونونو د فعالیت

- رئیس عودت مهاجرین بحیث عضو .
- آمر زون وزارت انکشاف شهری بحیث عضو .
- نمایندۀ وزارت کار و امور اجتماعی، شهدا و معلولین بحیث عضو .
- نمایندۀ کمیسیون مستقل حقوق بشر بحیث ناظر .
- نمایندۀ شورای ولایتی بحیث ناظر .

۳- کمیسیون های ولسوالی ها متشکل اند از :

- ولسوال بحیث رئیس .
- مدیر معارف بحیث عضو .
- شاروال (در صورت موجودیت) بحیث عضو .
- مدیر زراعت و آبیاری بحیث عضو .
- مدیر مالیه بحیث عضو .

(۲) طرز فعالیت کمیسیون های مندرج فقرۀ (۱) این ماده طبق لایحۀ

ډول د جلا لايحې مطابق تنظيمېږي.

## څلورم فصل
## د اجرائيوي کمېسيونونو دندې

د ځمکې تثبيتول

نهمه ماده :

اجرائيوي کمېسيونونه مکلف دي د دې مقررې او نورو تقنيني سندونو د حکمونـــو مطـــابق د ولايتونـــو او ولـــسواليو پـــه مرکزونـــو کـــې د ځمکې ساحه چې د ښار ګوټـــو د جوړولـــو لپـــاره مـــساعده وي ، د لاندې مشخصاتو پر بنسټ تثبيت کړي :

۱- هغه دولتي ځمکه چې ناکرنيز ، له اوبو جګه ( بلند آبه) او بکـــره او بايره وي .

۲- هغه غير دولتي ځمکه چـــې د استملاک پړاوونه يـــې د قـــانون د حکمونو مطابق بشپړ شوي وي .

جداگانه تنظيم ميگردد .

## فصل چهارم
## وظايف کميسيون هاى اجرائيوى

تثبيت زمين

مادۀ نهم:

کميـــسيون هـــاى اجرائيـــوى مکلـــف انـــد طبـــق احکـــام ايـــن مقـــرره و ســـاير اسناد تقنينى ، ساحۀ زمـــين را در مراکز ولايات و ولسوالى ها کـــه براى اعمار شهرک هـــا مـــساعد باشد، به اساس مشخـــصات ذيـــل تثبيت نمايند :

۱- زمين دولتى ايکه غير زراعتى ، بلنـــد آبـــه و بکـــر و بـــاير باشد .

۲- زمين غير دولتى ايکه مراحـــل استملاک آن بر طبق احکام قـــانون تکميل گرديده باشد .

**۳- هغه ځمکه چې د مخه د دولتي عام المنفعه پروژو په پلان کې شامله شوې نه وي .**

د ولایتي کمېسیونونو دنده

**لسمه ماده :**

**ولایتي کمېسیونونه مکلف دي د اړوندو ادارو په همکارۍ د ښارګوټي په هر واحد کې د پروژې د جوړولو پلان مطالعه کړي ، وئې ارزوي او ترتیب ئې کړي او د منظورۍ لپاره يې مرکزي کمېسیون ته وړاندې کړي .**

د مرکزي کمېسیون دنده

**یوولسمه ماده :**

**مرکزي کمېسیون پر مختیایي پروژې د ښارګوټو جوړونې د پلانونو د پلي کولو او د خدمتونو د تأمینولو په منظور ترتیبوي او په پرمختیایي بودجه کې د شاملولو لپاره يې د وزیرانو شوري ته وړاندې کوي .**

**۳- زمینی که قبلاً شامل پلان پروژه های عام المنفعه دولتی نشده باشد .**

وظیفهٔ کمیسیون های ولایتی

**مادهٔ دهم :**

**کمیسیون های ولایتی مکلف اند با همکاری ادارات مربوط پلان احداث پروژه را در هر واحد شهرک مطالعه ، ارزیابی و ترتیب نموده ، جهت منظوری به کمیسیون مرکزی ارائه نمایند .**

وظیفهٔ کمیسیون مرکزی

**مادهٔ یازدهم :**

**کمیسیون مرکزی پروژه های انکشافی را به منظور تحقق پلان های شهرک سازی و تأمین خدمات ترتیب و جهت شمول در بودجهٔ انکشافی به شورای وزیران ارائه می نماید .**

## دښارګوټو له جوړولو څخه څارنه

**دوولسمه ماده :**

مرکزي کمېسیون مکلف دی د ښارګوټي د جوړونې له تطبیق او د اړوندو ښاري خدمتونو له تأمینولو څخه څارنه وکړي .

## د ښارګوټي جوړونې د پروژې لګښت

**دیارلسمه ماده :**

(۱) د ځمکې نمره په وړیا توګه مستحق ته وېشل کېږي .

(۲) د ښارګوټي جوړونې د پروژې لګښتونه د اړوندو ولایتي کمېسیونونو د وړاندیز پربنسټ او د مرکزي کمېسیون په تأیید د وزیرانو د شوري لخوا تثبیت او د مستحق لخوا په ټاکلو قسطونو د اړوندې لایحې مطابق ورکول کېږي .

(۳) د دې مادې په (۲) فقره کې درج ترلاسه شوې پیسې د مالیې وزارت له لارې راټولیږي او د

## نظارت از احداث شهرک ها

**مادۀ دوازدهم :**

کمیسیون مرکزی مکلف است از تطبیق پلان احداث شهرک و تأمین خدمات شهری مربوط نظارت نماید .

## مصارف پروژه شهرک سازی

**مادۀ سیزدهم :**

(۱) نمره زمین طور رایگان به مستحق توزیع می گردد .

(۲) مصارف پروژه شهرک سازی به اساس پیشنهاد کمیسیون های ولایتی مربوط و تأیید کمیسیون مرکزی از طرف شورای وزیران تثبیت و از طرف مستحق به اقساط معینه طبق لایحه مربوط پرداخته میشود .

(۳) پول حاصله مندرج فقرۀ (۲) این ماده از طریق وزارت مالیه جمع آوری و در امور مربوط به

اړوندو کمېسیونونو تر نظر لاندې د ښارګوټو په ښاري خدمتونو پورې په اړوندو چارو کې لګول کېږي.

## پنځم فصل

## د مستحقینو وجایب

د مستحقینو وجایب

**څوارلسمه ماده :**

(۱) هغه اشخاص چې د ځمکـــې د نمرې د ترلاسه کولـــو پـــه غـــرض غوښتنه کوي ، د لاندې مراتبو په پام کې نیولو مکلف دي :

۱- د دې مقررې په منضمه فورمـــه کې د درج شوو صحیحو او دقیقـــو معلوماتو وړاندې کول .

۲- د ځمکې د نمرې د ښـــارګوټي جوړونې د خدمتونو د پیسو تحویلول (داستحقاق له تثبیت وروسته)د تعرفې مطابق په ټاکلي بانکي حساب کې .

۳- د اړوندو تقنینـــي ســـندونو د حکمونو له په پام کې نیولو ســـره د وېشل شوې ځمکې د پاسه د سرپناه

خدمات شهری شهرک ها تحـــت نظر کمیسیون های مربوط مصرف می گردد .

## فصل پنجم

## وجایب مستحقین

وجایب مستحقین

**مادۀ چهاردهم :**

(۱) اشخاصیکه غرض دریافت نمرۀ زمین درخواست می نمایند ، مکلف بـــه رعایـــت مراتـــب ذیـــل میباشند :

۱- ارائـــۀ معلومـــات صـــحیح و دقیق مندرج فورم منـــضمۀ ایـــن مقرره .

۲- تحویـــل پـــول خـــدمات شهرک سازی نمره زمین (بعـــد از تثبیت استحقاق ) طبق تعرفـــه بـــه حساب معینه بانکی .

۳- اعمـــار ســـرپناه بـــالای زمـــین توزیـــع شـــده بـــا رعایـــت احکـــام اســـناد تقنینـــی

ودانول .
۴- ترلسو کلونو پورې د کور نه پلورل .
۵- تر شپږو کلونو پورې د معلمۍ او استادۍ بالفعل خدمت ته دوام ورکول .
د تقاعد او له دندې څخه انفصال لدې حکم څخه مستثني دي .
(۲) که چېرې مستحق د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي وجايب په پام کې و نه نيسي ، په هغهٔ صورت کې چې په ځمکه ئې ودانۍ جوړه کړې نه وي ، د ځمکې نمره مستردېږي .
(۳) په هغهٔ صورت کې چې مستحق يو ځل د دې مقررې له امتياز څخه برخمن شوی وي ، دوه يم ځل نشي کولای لدې امتياز څخه ګټه واخلي .

دځمکې د نمرې داسترداد حالت

پنځلسمه ماده :
په هغهٔ صورت کې چې شخص د ځمکــې نمـره ، د دې مقــررې د

مربوط .
۴- عدم فروش منزل الی مدت ده سال .
۵- ادامه خدمت بالفعل معلمی و استادی الی مدت شش سال .
حالات تقاعد و انفصال از وظيفه از اين حکم مستثنی است .
(۲) هرگاه مستحق وجايب مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده را رعايت نه نمايد ، در صورتيکه بالای زمين تعمير اعمار نه نموده باشد ، نمره زمين مسترد ميگردد .
(۳) در صورتيکه مستحق يکبار از امتياز اين مقرره مستفيد شده باشد بار دوم نميتواند از اين امتياز استفاده نمايد .

حالت استرداد نمره زمين

مادهٔ پانزدهم :
در صورتيکه شخص نمرهٔ زمين را خلاف احکام

حکمونو خلاف تر لاسه کړې وي ، د نوموړې ځمکې نمره مسترده او بل مستحق ته وېشل کېږي او سرغړوونکی تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي .

## شپږم فصل

## متفرقه حکمونه

### د وزارتونو مکلفیتونه

**شپاړسمه ماده :**

(۱) د کرنې او اوبو لګولو وزارت او نور وزارتونه او دولتي ادارې چې د پروژې د تثبیت وړ ځمکه په واک کې ولري او مکلف دي د دې مقررې په نهمه ماده کې درج شوې ځمکې د تقنیني سندونو د حکمونو له په پام کې نیولو سره تثبیت او مشخصې کړي او په مرکز او ولایتونو کې یې د اجرائیوی کمېسیونونو په واک کې ورکړي.

(۲) د ښاري پر مختیا وزارت او ښاروالۍ ګانې مکلف دي د دې

این مقرره دریافت نموده باشد، نمرهٔ زمین مذکور مسترد و به مستحق دیگر توزیع و متخلف مورد تعقیب عدلی قرار میگیرد .

## فصل ششم

## احکام متفرقه

### مکلفیت های وزارت ها

**مادهٔ شانزدهم :**

(۱) وزارت زراعت و آبیاری وسایر وزارت ها وادارات دولتی که زمین قابل تثبیت پروژه را در اختیار داشته باشند، مکلف اند زمین های مندرج مادهٔ نهم این مقرره را با رعایت احکام اسناد تقنینی تثبیت و مشخص نموده ، در مرکز و ولایات به دسترس کمیسیون های اجرائیوی قرار دهند .

(۲) وزارت انکشاف شهری وشاروالی ها مکلف اند پلان

مادې په (۱) فقره کې د درج شوو ځمکو ښاري پلان او نقشې برابرې او دولتي اړوندې مراجع دې پـدې برخه کې ښاري خدمتونه برابر کړي.

د ملکيت سند

اوولسمه ماده :

(۱) هغو اشخاص تـه چـې د دې مقـررې د حکمونـو مطـابق د استوګنيزې ځمکې نمـره ترلاسـه کوي، په لومړي پړاو کې د اړوندو واکمنو مراجعو لخـوا د ملکيـت مؤقت سند وېشل کېږي .

(۲) د ملکيت دايمي سند د کور د ودانۍ په سلو کې له ۴۰ څخـه د زيات بشپړېدو او د ټاکلو قسطونو له ورکړې وروسـته د واکمنـو ادارو لخوا اجراء کېږي .

د مهاجرينو د راستنولو د وزارت مکلفيت

اتلسمه ماده :

د مهـاجرينو د راسـتنولو وزارت

شهری و نقشه های زمـین هـای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را تهیه و مراجع ذیربط دولتی خدمات شهری را در زمینه فراهم نمایند .

سند ملکیت

مادهٔ هفدهم :

(۱) اشخاصیکه مطابق احکام این مقرره نمـره زمـین رهایـشی را دریافـت مـی نماینـد، در مرحلهٔ اول سند مؤقت ملکیـت از طرف مراجع ذیصلاح مربـوط توزیع میگردد .

(۲) سند ملکیت دائمـی بعـد از اکمال بیش از ۴۰ فیصد ساختمان منـزل و تادیـه اقـساط معینـه، از طرف ادارات ذیـصلاح اجـرا می شود .

مکلفیـت وزارت عـودت مهاجرین

مادهٔ هجدهم :

وزارت عودت مهـاجرین مکلـف

مکلف دی د راستنو شوو په بنارگوټو کې د بنارگوټي د ښوونځیو مستحقو ښوونکو ته د ځمکې د نمرو یا استوگنیزو کورونو ونډه په پام کې ونیسي .

د پور ورکړه

**نولسمه ماده :**

د دې مقررې په حکمونو کې درج شوو مستحقینو ته د ځمکې د نمرې د ودانولو په منظور د اړوندو تقنیني سندونو مطابق ، د اوږدې مودې ، منځنۍ مودې او لنډې مودې پورونو د ورکړې زمینه برابرېږي .

دپوهنې وزارت نورو کارکوونکو ته د ځمکې د نمرو وېش

**شلمه ماده :**

د پوهنې وزارت نورو کارکوونکو ته د تقنیني سندونو د حکمونو مطابق د استوگنیزو ځمکو نمرې وېشل کېږي .

است در شهرک های عودت کنندگان برای معلمین مستحق مکاتب شهرک سهمیهٔ نمرات زمین یا منازل رهایشی را در نظر بگیرد .

پرداخت قرضه

**مادهٔ نزدهم:**

به منظور اعمار نمرات زمین به مستحقین مندرج احکام این مقرره ، زمینه اعطای قرضه های طویل المدت ، متوسط المدت و کوتاه مدت طبق اسنادتقنینی مربوط فراهم میگردد .

توزیع نمرات زمین به سایر کارکنان وزارت معارف

**ماده بیستم :**

برای سایر کارکنان وزارت معارف طبق احکام اسناد تقنینی نمرات زمین رهایشی توزیع می گردد .

د لایحو وضع کول

**یوویشتمه ماده :**

**مرکزي کمېسیون ، د دې مقررې د حکمونو د لا ښه تطبیق په منظـــور لایحې وضع کوي .**

انفاذ

**دوه ویشتمه ماده :**

**دغه مقرره د تصویب له نېټې څخـــه نافذه او په رسمي جریده کـــې دې خپره شي .**

وضع لوایح

**مادهٔ بیست و یکم :**

**کمیسیون مرکزی به منظور تطبیق بهتر احکام این مقرره لوایح وضع می نماید .**

انفاذ

**مادهٔ بیست ودوم :**

**ایـــن مقـــرره از تـــاریخ تـــصویب نافذ و در جریـــدهٔ رســـمی نـــشر گردد .**

وزارت معارف

کمیسیون (                    )

فورم تثبیت استحقاق نمرات زمین رهایشی برای معلمین بی سرپناه

| | | | |
|---|---|---|---|
| **اسم :** | **تخلص :** | **اسم پدر:** | **اسم پدرکلان:** |
| **سال تولد :** | **محل تولد :** | **محل صدور تذکره:** | **نمبر تذکره:** |
| **شهرت همسر درخواست دهنده :** | **اسم:** | **تخلص:** | |
| | **اسم پدر:** | **اسم پدرکلان:** | |
| | **نمبرتذکره:** | **محل صدور تذکره:** | |
| **سکونت اصلی :** | **ولایت:** | **ولسوالی:** | **ناحیه:** |
| **سکونت فعلی :** | **ولایت:** | **ولسوالی:** | **ناحیه:** |
| **شماره های تیلفون:** | **موبایل:**<br>**دفتر:** | | |
| **محل کاردرخواست دهنده:** | **ولایت:** | **ولسوالی یا ناحیه:** | **تاریخ تقرر در مصارف مدت خدمت در معارف** |
| **عاید سالانه هر یک از زوجین:** | **عاید زوج:** | **عاید زوجه:** | **عاید اولادیکه با درخواست دهنده زندگی میکند** |
| **عاید اضافی (حق الزحمه، ارث، حاصلات زمین و مدارک دیگر عایداتی)** | | | |

**تعداد اعضای فامیل درخواست دهنده: (                    )**

| **اسم:** | **اسم پدر:** | **رابطه:** | **نمبرتذکره:** |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

**هرگاه تعداد اعضای فامیل زیادتر از ستون های فورم مذکور باشد در صفحهٔ دیگر نوشته و ضم این فورم گردد.**

| |
|---|
| دارائی منقول و غیر منقول درخواست دهنده و اعضای فامیل وی: |
| آیا زوجه گاهی از نمره یا از آپارتمان توزیع شدهٔ دولت در مرکز یا ولایات مستفید شده اند؟ جواب را مفصل با تاریخ آن بنویسید. |
| آیا جایداد زوج یا زوجه توسط دولت استملاک شده ؟ اگر شده به کدام مبلغ ؟ مفصلاً جواب دهید. |
| آیا در ظرف ده سال زوج یا زوجه خانه ، زمین رهایشی یا آپارتمان را به فروش رسانیده اند؟ مفصلاً جواب دهید. |

اجراآت رسمی:

| | |
|---|---|
| تصمیم مجلس معلمین : | |
| تصدیق ادارهٔ مکتب: | |
| تصدیق مدیریت معارف: | تصدیق ریاست معارف ولایت مربوط: |
| تصدیق شاروالی ولایت یا ولسوالی مربوط: | |
| نظریهٔ کمیسیون تثبیت استحقاق: | |

این فورم منحیث محک قضاوت استحقاق درخواست دهندهٔ اخذ زمین برای اعمار سرپناه شناخته میشود. هرگاه ثابت شود که در تکمیل این فورم حقیقت کتمان شده و از اطلاعات دروغین استفاده به عمل آمده است علاوه بر اینکه با متخلف مطابق احکام قانون جزا برخورد صورت میگیرد، استحقاق زمین برای اعمار سرپناه را نیز از دست میدهد.

# رسمي جریده

دافغانستان

داسلامي جمهوریت

د وزیرانو شوري

مصوبه

گڼه:(۱۹)

نېټه: ۲۰/۰٦/۱۳۸۵

دملکي خدمتونودمامورینودسلوک د ډول مقرره چې په(۳) فـــصلونو او (۱۱) مادو کې د وزیرانوشـــوري لخوا تصویب شوې ده، منظوروم.

دغه مقرره په رسمي جریده کـــې د خپرېدو له نېټې څخه یوه میاشـــت وروسته نافذېږي.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوریت

رئیس

مصوبۀ

شورای وزیران

جمهوری اسلامی

افغانستان

شماره: (۱۹)

تاریخ: ۲۰/۰٦/۱۳۸۵

مقررۀ طرزسلوک مامورین خدمات ملکی راکــه بــداخل (۳)فــصل و(۱۱)ماده ازطرف شورای وزیران تصویب گردیده است،منظورمیدارم.

ایـــن مقـــرره یکمـــاه بعـــد از تاریخ نـــشر در جریـــدۀ رســـمی نافذمیگردد.

حامد کرزی

رئیس جمهوری اسلامی

افغانستان

# رسمي جريده

## فهرست مندرجات

## مقررهٔ طرز سلوک مامورین خدمات ملکی

### فصل اول

### احکام عمومی


| مواد | عناوین | صفحات |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنیٰ | ۱۹ |
| مادهٔ دوم: | هدف | ۱۹ |


### فصل دوم

### وظایف ومکلفیت ها


| مواد | عناوین | صفحات |
|---|---|---|
| مادهٔ سوم: | اجراآت مسلکی | ۲۰ |
| مادهٔ چهارم: | خدمت به مردم | ۲۱ |
| مادهٔ پنجم : | تحکیم قانونیت | ۲۲ |
| مادهٔ ششم: | ثبات ،صداقت فردی وبیطرفی | ۲۳ |
| مادهٔ هفتم : | شفافیت وحسابدهی | ۲۵ |
| مادهٔ هشتم : | مؤثریت و مثمریت | ۲۷ |


### فصل سوم

### احکام متفرقه


| مواد | عناوین | صفحات |
|---|---|---|
| مادهٔ نهم : | امضای تعهدنامه | ۲۸ |
| مادهٔ دهم : | تأدیب | ۲۸ |
| مادهٔ یازدهم : | انفاذ | ۲۸ |

بسم الله الرحمن الرحیم

## دملکي خدمتونو د مامورينو د سلوک د ډول مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره دملکي خدمتونو د قانون د حکمونو په رڼاکې، دملکي خدمتونو د مامورينو د سلوک په ډول پورې د اړوندو چارو د تنظيم په منظور وضع شوېده.

**موخه**

**دوه یمه ماده:**

ددې مقررې موخه په سپارل شوو دندو کې د مسلکي چارو د لاښو اجراآتو ،خلکوته دخدمت ، دقانونيت ،ثبات ، فردي رېښتنولۍ (صداقت) او ناپلوۍ دټينګښت ،نه تبعيض، روڼتوب،حساب ورکونې ، اغېزمنتوب او ګټورتوب

## مقررۀ طرزسلوک مامورين خدمات ملکی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این مقرره در روشنی احکام قانون خدمات ملکی به منظور تنظیم امور مربوط به طرزسلوک مامورین خدمات ملکی وضع گردیده است.

**هدف**

**مادۀ دوم:**

هدف این مقرره تنظیم قواعد مربوط به طرز سلوک مامورین خدمات ملکی شامل اجراآت بهتر امور مسلکی،خدمت به مردم،تحکیم قانونیت،ثبات ، صداقت فردی وبیطرفی ، عدم تبعیض،شفافیت،

شامل ، دملكي خدمتونو د مامورينو د سلوک په ډول پورې د اړونـــدو قواعدو تنظيمول دي.

## دوه يم فصل

## دندې اومكلفيتونه

**مسلكي اجراآت**

**درېيمه ماده:**

د ملكي خدمتونو مامورين دمسلكي چارو د لاښې اجراء دپرمخبيولو په منظور، دلاندې مكلفيتونو لرونكي دي:

۱–په ټاكلو وختونو كـــې د كـــار ځاى ته حاضرېدل.

۲–دهرډول هغۀ عمل لــه ســرته رسولو څخه چې د رسمي دندو د ګډوډېدو سبب شي،ډډه كول.

۳–په ښه ډول د دندو اجــراء او دلايحې او دكار دپلان مطابق لازم هاند كول.

۴–دځـــان اوتـــرلاس لانـــدې كاركوونكودمهارت اومسلكي پوهې دسطحې د لوړولو لپاره هاند كول.

حـــــــــــسابدهی،موثريت ومثمريـــــــت در وظـــــايف محوله می باشد.

## فصل دوم

## وظايف ومكلفيت ها

**اجراآت مسلكی**

**مادۀسوم :**

مامورخدمات ملكی بـــه منظـــور پيشبرد اجرای بهتر امور مسلكی، دارای مكلفيـــت هـــای ذيـــل می باشد:

۱ – حضور بـــه محـــل كـــار در ساعات معينه.

۲– اجتناب از انجام هـــر نـــوع عملـــی كـــه موجـــب اخـــلا ل وظايف رسمی گردد.

۳– اجرای وظـــايف بـــه حـــسن صورت و صرف مساعی لازمه طبق لايحه وپلان كار.

۴– سعی در جهت ارتقای ســـطح مهارت و دانش مـــسلكی خـــود وكاركنان تحت اثر.

## خلكوته خدمت

**څلورمه ماده:**

دملکي خدمتونو مامور، خلکوته د لاښو خدمتونو د وړاندې کولو په منظور ، دلاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

۱-له قومي ،توکمیز،جنسي،ديني، مذهبي،سیاسي عقایدو،دظاهري جسمي وضعیت او مدني حالت په لحاظ له هېڅ ډول تمایز(توپیر) پرته وړ چلند او ښه سلوک.

۲-د اطفالو ، معیوبینو،ښځو او سپین ږیرو د اړتیاوو لرې کولو ته ځانګړې پاملرنه.

۳-ملکي خدمتونو ته د اسانې لاس رسۍ لپاره مراجعینوته په ملکي خدمتونو پورې د اړوندو اجراآتو په اړه دمعلوماتو وړاندې کول.

۴-عندالموقع دخلکودستونزو دلرې کولو لپاره د لازمو تدبیرونو نیول.

## خدمت به مردم

**مادۀ چهارم:**

مامور خدمات ملکی به منظور ارایه خدمت بهتر به مردم، دارای مکلفیت های ذیل می باشد:

۱- بر خوردشایسته وحسن سلوک بدون هیچگونه تمایزازلحاظ،قومی، نژادی،جنسی،دینی، مذهبی، عقایدسیاسی ،وضعیت جسمی ظاهری وحالت مدنی .

۲- توجۀ خاص به رفع نیازمندی های اطفال ، معیوبین ، معلولین ، زنان ومحاسن سفیدان.

۳- ا رایه معلومات لازم در رابطه به اجراات مربوط به خدمات ملکی به مراجعین جهت دسترسی سهل آنها به خدمات ملکی .

۴- اتخاذ تدابیر لازم جهت رفع مشکلات مردم عندالموقع.

## دقانونيت ټينګښت

**پنځمه ماده:**

(۱)دملکي خـدمتونو مـامور،د قانونيت دټينګښت پـه منظـور، دلاندې مکلفيتونو لرونکی دی:

۱-دسپارل شوو دندو په ساحه کې د قوانينو ،مقرراتو او نورو نافـذو تقنيني سندونو دحکمونو په پام کې نيول اوتطبيق.

۲-د لايحو او اړوندو کـړنلارو مطابق د دندو سرته رسول.

۳-دمافوقو آمرينو له قانوني اوامرو اولارښوونو څخه اطاعت.

(۲)که چېرې دملکـي خـدمتونو مامور،دناقانونه امر په اجراء مجبور شي، دهغۀ له اجـراء دمخـه دې دقانون دحکمونـو مطـابق اداري مراتبودلړۍ(سلسلۀ مراتب)له په پام کې نيولو سره موضـوع د لـوړو آمرينو خبرتيا ته ورسوي.

(۳)که چېري دملکـي خـدمتونو مامور د نورو مامورينو د ناقانونـه

## تحکيم قانونيت

**مادۀپنجم:**

(۱) مامور خدمات ملکی به منظور تحکيم قانونيت، دارای مکلفيـت های ذيل می باشد :

۱- رعايـت و تطبيـق احکـام قوانين، مقررات و ساير اسـناد تقنينی نافذ در سـاحۀ وظـايف محوله.

۲- انجام وظايف طبق لـوايح و طرزالعمل های مربوط.

۳ – اطاعت از اوامر و هدايات قانونی آمرين ما فوق.

(۲)هرگـاه مامورخـدمات ملکـی مجبوربـه اجـرای امـر غيرقانونی گردد ،قبـل ازاجـرای آن موضـوع را بارعايـت سلـسله مراتـب اداری طبـق احکام قانون بـه اطـلاع آمـرين بالاتر برساند.

(۳) هرگاه مامورخدمات ملکـی ازاجرای عمل غيرقانونی توسـط

عمل له اجراء څخه خبرتيا ترلاسه کړي، مکلف دی موضوع اړوند آمرته خبرورکړي.

**ثبات،فردي ريښتينولي اوناپلويتوب**

**شپږمه ماده:**

دملکي خدمتونو مامور دثبات، فردي ريښتينولۍ او ناپلويتوب دساتلو په منظور ، دلاندې مکلفيتونو لرونکی دی:

۱–له هغۀ موقف اومعلوماتو څخه چې د رسمي دندو د اجراء په بهيرکې يې ترلاسه کوي، دځان،خپلوانو او دوستانو په ګټه سؤ استفاده نه کول.

۲–د دندې په ارتباط دځان، خپلوانو،دوستانو اړوندآمر، همکارانو يا مادونانولپاره دهديې يا هرډول مادي يا معنوي ګټې نه منل يا ورکول.

۳–په شخصي مقصدونو د ادارې له وسايلو او اسانتياووڅخه ګټه نه

سايرمامورين آگاهی حاصل نمايد، مکلف است موضوع رابه آمرمربوط اطلاع دهد.

**ثبات،صداقت فردی وبيطرفی**

**مادۀ ششم:**

مامور خدمات ملکی به منظور حفظ ثبات ، صداقت فردی و بيطرفی، دارای مکلفيت های ذيل می باشد:

۱ – عدم استفادۀ سوء ازموقف يامعلوماتيکه در جريان اجرای وظايف رسمی حاصل مينمايد، به نفع خود ،اقارب ودوستان.

۲– عدم قبول يا اعطای هديه ياهرنوع منفعت مادی يامعنوی برای خود ،اقارب،دوستان، آمرمربوط ،همکاران يا مادونان به ارتباط وظيفه .

۳– عدم استفاده ازوسايل وتسهيلات اداره به مقاصد شخصی

اخستل يا له اړوندې ادارې څخه له دمخه استيذان پرته د دولتي مالونو ايستل.

۴-د دندې د اجراء په وخت کې د داسې نظرله اظهارولو څخه چې د ټولنې له يوې خاصې ډلې څخه په مخالفت يا ملاتړ کې وګڼل شـي، ډډه کول.

۵-په لاندې چارو چې ريښتينولۍ او دنده ايز ناپلويتوب ته د زيـان رسېدو سبب شي نه بوختېدل:

-له دولت سره دمعـاملې طـرف سوداګريزې مؤسسې جوړول يـا اداره کول.

-له دولت سره دمعـاملې طـرف سوداګريزې مؤسسې له معاش سره ياپرته له معاشه دنده ايزه ژمنه.

٦-له دولت څخه په استازيتوب ،له شخص يا له هغې ادارې سره چـې دهغهٔ له خپلوانو او دوستانو سـره کاري يا فاميلي اړيکـي ولـري، دقراردادنه عقدول اوپه هغهٔ کـې

يا خارج ساختن امـوا ل دولتـی بـدون اسـتيذان قبلـی، از ادارهٔ مربوط.

۴- امتنـــاع ازاظهـــارنظر حـين اجـرای وظيفـه کـه در مخالفـت يـا حمايـت ازيـک گروه خـاص جامعـه پنداشـته شود.

۵- عدم اشتغال به امور آتی کـه موجب لطمه به صداقت و بيطرفی وظيفوی گردد:

ــ تأ سـيس يـا ادارهٔ مؤسـسهٔ تجـارتی طـرف معاملـه با دولت.

ــ تعهدوظيفوی با معاش يا بـدون معاش در مؤسسهٔ تجارتی طـرف معامله بادولت.

٦ - عـدم عقـد قـرارداد و وساطت در آن بـه نماينـدگی ازدولت، بـا شـخص يـا ادارهٔ کـه بـا اقـارب و دوسـتان وی روابط کـاری يـا فـاميلی

نه وساطت کول.

۷–له دولت څخه په استازیتوب سره د قرارداد دعقدولو په ترڅ کې له قراردادي، داوطلب یا دهغو له قانوني استازوڅخه د قرارداد دشرایطو دبدلون(تغییر) یا دیوۀ قراردادي پربل باندې دترجیح ورکولو لپاره د هدیې نه منل یا نه غوښتل.

۸–په هغو فعالیتونواو د رسمي تصمیمونو په نیولو کې چې دهغۀ شخصي ګټه پکې متصوره وي برخه نه اخستل.

۹–د دندې د اجراء په وخت کې دسیاسي حزب یا اشخاصو په ګټه یا زیان دملاتړ یا مخالفت په خاطردهمکارانو یا مراجعینو نه هڅول یا نه مجبورول.

## روڼتوب اوحساب ورکونه

**اوومه ماده:**

دملکي خدمتونو مامورد روڼتوب او حساب ورکونې دتأمینولوپه منظور

داشته باشد.

۷ –عدم پذیرش یا مطالبۀ هدیه حین عقد قرارداد از قراردادی ،داوطلب یا نمایندگان قانونی آنها به نمایندگی ازدولت، جهت تغییرشرایط قرارداد یا ترجیح یک قراردادی به دیگری.

۸–عدم سهم گیری درفعالیت ها واتخاذ تصامیم رسمی که منفعت شخصی وی متصور باشد.

۹– عدم تشویق یا مجبور ساختن همکاران و مراجعین به خاطر حمایت یا مخالفت به نفع یاضرر حزب یااشخاص سیاسی حین اجرای وظیفه.

## شفافیت و حسابدهی

**مادۀ هفتم:**

مامورخدمات ملکی به منظور تأمین شفافیت وحسابدهی، دارای

دلاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

۱–آمرینو او قانوني واکمنو مراجعوته ددندې د اجراء په اړه د دقیقو معلوماتو وړاندې کول.

۲–د دندې د اجراء په وخت کې دپټو (سري)معلوماتو له وړاندې کولو څخه ډډه کول.

۳–ټولنیزو رسنیو ته دسندونو له وړاندې کولو او مصاحبې کولوڅخه ډډه کول،خوداچې د داسې چارې(امر)اجراء ته مؤظف شوی وی.پدې صورت کې هرډول اطلاعات ،معلومات یا مصاحبه په واقعي بیان پورې اړوند،وي او دشخصي نظریو له وړاندې کولو څخه دې ډډه وکړي.

۴–دملکي خدمتونو په اداره کې دشاملېدو په وخت کې له شخصي عوایدو ،شتمنیو او پوررونو څخه د لیکلو معلوماتو وړاندې کول.

۵–له کورنیو اوبهرنیو ادارو سره د

مکلفیت های ذیل می باشد:

۱–ارایه معلومات دقیق در رابطه به اجرای وظیفه به آمرین و مراجع ذیصلاح قانونی .

۲–امتناع از ارایه معلومات سری حین اجرای وظیفه، مگر اینکه مقام ذیصلاح درمورد هدایت داده باشد.

۳–امتناع از ارایه اسناد یا مصاحبه با رسانه های همگانی ،مگر اینکه به اجرای چنین امری مؤ ظف شده باشد. در این صورت ارایه هر نوع اطلاعات ، معلومات یا مصاحبه منوط به بیان واقعی بوده و از ارایه نظریات شخصی خودداری نماید.

۴–ارایه معلومات کتبی از عواید،دارایی ها و قروض شخصی حین شمول در ادارۀ خدمات ملکی .

۵– امتناع از تأ مین روابط

په خپل سر اړیکیو له تأمینولو څخه ډډه کول.

اغېزمنتوب اوګټورتوب

اتمه ماده:

دملکي خدمتونو مامور د کار د اغېزمنتوب او ګټورتوب دتأمینولو په منظور د لاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

۱-دسپما(صرفې) د اصل له په پام کې نیولو سره ،په معقوله او منسجمه توګه د دولت له شتمنیو او امکاناتو څخه ګټه اخستل.

۲-له هغو فعالیتونو څخه چې د دولت د وخت اوشتمنۍ دضایع کېدو سبب شي ډډه کول.

۳-د کار د اغېزمنتوب اوګټورتوب دښه کولو په منظور د تدبیرونو په نیولو کې کارنده برخه اخستنه.

خود سرانه با ادارات داخلی یا خارجی.

موثریت و مثمریت

مادۀ هشتم:

مامور خدمات ملکی به منظور تأمین مؤثریت و مثمریت کار، دارای مکلفیت های ذیل می باشد:

۱- استفاده از دارایی ها و امکانات دولت با رعایت اصل صرفه جویی، طور معقول و منسجم.

۲- امتناع از فعالیت هائیکه سبب ضیاع وقت و دارایی دولت گردد.

۳ - سهم گیری فعالانه در اتخاذ تدابیر به منظور بهبود موثریت و مثمریت کار.

## دریيم فصل

## متفرقه حکمونه

**دژمنليک لاسليک کول**

**نهمه ماده :**

دملکي خدمتونو مامور په دنده کې دشاملېدو په وخت کې مکلف دی، د دې مقررې د(۱) گڼې ضـــميمه ژمنليک لاسليک کړي.

**تأديب**

**لسمه ماده:**

ددې مقررې له حکمونـــو څخـــه دسرغړونې پـــه صـــورت کـــې ، سرغړوونکی د انضباطي مقـــررې دحکمونو مطابق تأديب کېږي.

**انفاذ**

**يوولسمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جريده کـــې دخپرېدو له نېټې څخه يوه مياشت وروسته نافذېږي.

## فصل سوم

## احکام متفرقه

**امضای تعهدنامه**

**مادهٔ نهم:**

مامورخدمات ملکی حين شموليت به وظيفه مکلف است، تعهد نامـــهٔ ضميمهٔ شماره(۱) اين مقـــرره را امضاء نمايد.

**تأديب**

**مادهٔ دهم:**

در صورت تخلـــف از احکـــام ايـــن مقـــرره، متخلـــف طبـــق احکام مقررهٔ انـــضباطی تأديـــب می گردد.

**انفاذ**

**مادهٔيازدهم:**

اين مقرره يکماه بعـــد از تـــاريخ نـــــشر در جريـــــدهٔ رســـــمی نافذ می گردد.

## ضمیمهٔ شماره (۱)

### تعهدنامه

**اینجانب (                    )فرزند(                    )متولد(                    )**
**دارندهٔ تذکرهٔ نمبر(                    ) ساکن(                    ) با آگاهی**
**کامل اظهار میدارم که به جمهوری اسلامی افغانستان وفادار بوده وباتمام توانائی خویش طبق احکام قانون،مقرره ولایحهٔ وظایف آمادهٔ خدمتگزاری میباشم.**
**مقررهٔ طرز سلوک مامورین خدمات ملکی رابه شکل مکمل مطالعه واحکام مندرج آنرا حین اجرای وظیفه رعایت مینمایم.**

**اسم مامور/کارکن خدماتی:**

**امضاء:**

**تاریخ:     /     /۱۳۸۵**

# اشتر ک سالانه

**در مرکز و ولایات :(۵۰۰) افغانی**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت**

**خارج از کشور (۱۵۰) دالر امریکائی**

**قیمت این شماره :(۳۰) افغانی**

**نمبر تیلفون دیجیتل :  (۲۱۰۳۳۷۵)**

**تیراژ چاپ: (۵۰۰۰) جلد**

Download from: aghalibrary.com

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL
# GAZETTE

EXTRAORDINARAY ISSUE

## Registration on Distribution of Residential Plots to Homeless Teachers
## And
## Code of Conduct for Civil Servants

ISSUE NO :900

Date : 27th Sep. 2006

Download from: aghalibrary.com